پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۳/۰۲/۱۱

# « زما افغانستان » په اړه د بهاند صاحب لیکنه

څو ورځې وړاندې د کور تلیفون ته زنګ راغی، غوږکې مې پورته کړه او زما د یوه پیاوړی قلموال فرهنګی او شخصی دوست پوهندوی محمد اصف بهاند د ږغ په اوریدو مې غوږونه په خوښۍ و مسیدل. ده راسره د احوال پوښتنې وروسته د« **زما افغانستان** » نومی فلم د لیدلو څخه خپلې خاطرې شریکې کړې. تر هغه ګړی پورې لا ما دا فلم لیدلی نه وو، نو مې یوازې د ده خبرو ته په ځیر سره غوږ نیولی وو او په هکله مې یې د ځانه څه شی د ویلو دپاره نه درلوده. د خبرو اترو په پای کې ده رانه په هلمند او په ځانګړې توګه په لښکرګاه کې د خلګو د ایتنیکی جوړښت په اړه څو پوښتنې هم وکړې. ما ورته وویل چې هلته د **بغرا** د کانال تر کیندلو وروسته ډیرې ځمکې تر اوبو لاندې راغلې او نژدې د ټولو هغو ولایتونو خلګو ته وویشلې شوې چې پخپل ولایت کې یې آبادې ځمکې لږ دی. اوس هلته دهیواد ټول وړونه قومونه ګډ ژوند لری، ناسته پاسته او تګ راتګ لری، یو دبل سره خپښې کوی، غم او ښادی یی شریکه ده او ښایی تر بل هر ولایت دلته د انتیګریشن چارې په ښه ډول پر مخ تللې وی. ما د بیلګې په توګه ورته یاده کړه چې په ولسی جرګه کی همدا اوس د هلمند د خلګو د استازو په ډله کې هزاره توکمه و کیلان هم شته چې هلمندوالو پښتنو رایی ورته ور کړې دی. بهاند صاحب د دی خبرو په اوریدو ډیر خوښ سو او یو دبل سره مو خدای په امانی وکړ.

را به شو « **زما افغانستان** » ته. دا یو هغه مستند فلم دی چې د خواجه نقیب الله پنامه یوه ډنمارکی افغان په هلمند کی ډک کړی دی. څو شپې د مخه یو ماښام ناست وم او دیوه افغانی تلویزیون یو تفریحی پروګرام مې کوت چې زوی مې د بل اطاق نه راغی، و یی ویل چې په (DR 2) تلویزیون کی د افغانستان په باره کی فلم ښئی، تاسی به یی هم خامخا لیدلو ته لیوال یاست. په چټکۍ سره د افغانی تلویزیون څخه هغه ډنمارکی کانال ته ور واوښتم. د فلم د پیل یو دوی دقیقی رانه تیری شوی وی، خو پاته مې په ځیر او خوښۍ سره وکوت.

که هر څومره مې هم په ځیر سره د دی فلم تماشا وکړه خو خدای شته دلیدلو وروسته چې مې هر څومره فکر وکړ، د فلم په پلانیزه او منظمو موخو باندی پوه نشوم. هلته د بیلابیلو منځپانګو سره صحنې یو په بل پسې بیله مقدمې راتلې او تلې چې لیدونکی یی ویوی ځانګړی موضوع ته متمرکز کیدلای نشو. ما د کار او زده کړې پرمهال د مستندو فلمونو سره ډیر سروکار درلودلی دی، د موخو د تعقیب او جریان سره یی بلدتیا لرم. کله چې مې د مسکو په دولتی پوهنتون کی د ډاکترۍ پر تیزس باندی کار کاوه، هلته مې د « موسفیلم » پنامه د فلم جوړونکی سټډیو سره د قرارداد له مخې د حق الزحمې په بدل کی د شوروی علمی – تخنیکی او سیاسی – ټولنیزو پرمختیا په اړوند مستند فلمونه په پښتو ژباړل او په خپل آواز کی مې دوبلې کول. البته دا هغه فلمونه وه چې د شوروی تر اشغال وروسته دوی د خپلو ارشیفونو څخه افغانستان ته راوړل، دلته یی د افغانی تلویزیونی چاینل دلاری د « همسایه دوست شمالی ما » د پروګرام په ترڅ کی په هفته کی یو ځل د خپلو بریاوو د ریکلام پخاطر افغانی لیدونکو ته ښودل. د دی یادونی نه مې موخه داده چې د مستندو فلمونو په اړه د پراخې بلدتیا سره سره د دی فلم اصلی موخې رانه ورکیدې. که هرچا دافلم کتلی وی، خامخا به د دی خبرې سره همږغې وی چې فلم د مستندو فلمونو د معیارونو سره پوره همږغې نلرې.

پدی اړه د محترم بهاند صاحب لیکنه ډیره په زړه پورې ده چې څو ورځې دمخه په یو زیات شمیر افغانی برښناپاڼو کی خپره شویده. داسی ښکاری چې بهاند صاحب قلم او کاغذ پلاس کی د فلم لیدو ته ناست وو، هرڅه یی په ځیر څارل، یاداښتونه یی اخیستل او یاد ته یی سپارل. زما په اند هغه څوک چې دلیکلو سره تړاو لری، دا یی ډیر ښه عادت دی ځکه چې هر څه خو د سړی په یاد کی نه پاته کیږی. تر دی خبرې پورې مې یوه بله موضوع رایاده شوه: یو ماښام د یو شمیر افغانانو سره د یوی ښادۍ د خوښۍ په مجلس کی ناست وم، سیاست ته خبره ورسیده، هر چا پر کرزی، دهغه پر کمزوری اداری، د نظام پرناخوالو او ان د ده پرشخصی کړو وړو او چینی باندی هم بیشمیره انتقادونه کول. زه ناست وم، غوږ مې نیولی او د ټولو نیوکی مې په ځیر اوریدی. په اخیره کی چې د ډیر ځنډ وروسته نوبت راورسیدی، ما د دوی ټولو انتقادونه او نیوکی پر ځای وبللی او د ټولو نه مې هیله وکړه چې اخر پکار ده دحل لاری چاری یی هم ورته په ګوته کړی. د دی وړاندیز په اوریدو ټول د یوه مخه چوپ پاته شول او د خبرو موضوع وروسته لدی نه بیخی بلی خواته ولاړه. د دی شپې په سهار ما د «**اسان انتقادونه او د حل ستونزمنی لاری**»


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تر سرلیک لاندی یوه لیکنه افغانی سایټونو ته ولیږل چې دهغه مجلس سمبولیک تمثیل په کښی راغلی وو. د دی لیکنی په لوستلو سره یوه دوست راته وویل چې پر تامی پدی خاطر ډیر زړه وسوزیدی، ځکه تا هلته د خوښی په مجلس کی د دی پرځای چې خوښی وکړی، پدی هکله دی فکر کاوه چې څنګه خپلی لیکنی ته مواد راټول کړی او د مجلس نه به دی هیڅ خوند هم نه وی اخیستی. پدی توګه ویلای شم چې بهاند صاحب به هم خدای خبر چې د فلم نه پوره خوند اخیستی وی. څه وکړو دا د قلموالو ګډه ستونزه ده او دا دوی دی چې له **همدغی ستونزی نه خوند اخلی** لکه رحمان بابا چې وایی:

**پتنګانو لره خدای په اور کی ورکړه**
**هغه مینه چې بلبل یی پر ګلزار کا**

لنډه داچې بهاند صاحب فلم په ځیر کتلی، د مستندو فلمونو په ارونو خبر دی، د دی فلم د نیمګړتیاوو ښودلو ترڅنګ یی د سمون یادونی هم په ګوته کړی دی. تر هغه ځایه چې زه پوهیږم د هنری فلم په خلاف د مستند فلم یوه ځانګړتیا داده چې دلته دفلم موخه له پیل نه څرګنده، موضوع ګانی د اړیکو له مخی یو په بل پسی مخته ځی، مبتدآ اوخبر ور پکښی مالوم وی او لیدونکی د موخی ورک کولو د تشویش پرته فلم تعقیبولای شی. خو د دغه فلم په جوړولو کی دغی ستونزی ته د فلم کارګردان یا د لږی تجربی او یا هم د تلوار او عجلی له مخی پام ندی اړولی چې هیله ده په راتلونکی یی په یاد ولری.

که هرڅو د دی فلم د لیدلو څخه پلانیزه موخی د ورایه څرګندی ندی خو واقعیت دادی چې فلم جوړونکی، زموږ ګران ځوان وطنوال خواجه نقیب الله پدی کار کی ځانته ټاکلی پلان او څرګندی موخی درلودی. پدی اړوند په ډنمارکی ژبی ورځپاڼی (Politiken، 31.1.2013 ) کی د ده د څرګندونو څخه داسی بریښی چې اصلی موخه یی په هلمند کی د خلګو دعادی روتین ژوند ښودل دی چې څنګه یی د جنګ تر سیوری لاندی د ډزو له کبله د ناخواله ژوند بهیر ګډوډ کیږی. لکه چې وینو دغه ځوان د وطن پالنی په مینه او پوره خواخوږی سره یوه ښکلی هیله په مخ کی نیولی ده او غواړی د نړیوالو پام و دغی غمیزی ته را واړی او دوی ته وښئی هغه مالوماتونه چې دوی یی د یوشمیر چارواکو یا ورسره تړلو کسانو څخه تر لاسه کوی، دهغو ترڅو واقعیتونو سره پوره سر نه خوری چې داګړی د هیوادوالو په استازیتوب زموږ زوریدلی هلمندوال ورسره لاس او ګریوان دی.

په فلم کی یوه بله په زړه پوری خبره داده، د فلم په یوه ځای کی هلته په هلمند کی د یوه نفر سره په خبرو کی نقیب الله وایی چې د ده پلار نژدی ۵۰ کاله دمخه اروپا ته راغلی او دی دلته په ډنمارک زیږیدلی او لوی شویدی. د ده د ظاهری بڼی نه ښکاری چې ښایی دیرش کلن به وی. پدی توګه هغه مهال چې دی ماشوم وو، په ډنمارک کی د افغانانو شمیر بیخی کم وو او ده ډیر لږ امکانات درلودل چې د افغانانو سره په خپله ژبه خبری وکړی. د دغه مشکل سره سره، دی اوس په ډیره روانه دری ژبه خبری کوی، نه یوازی ګرامری ستونزی نلری بلکه تر لویه بریده د ادبی نورمونو سره برابر ږغیږی. د ده دا ښیګڼی په ډیرو ستایلو ارزی. د دی خبره برسیره چې دی اوس په ډنمارکی ټولنه کی په بشپړ ډول انتیګریشن شویدی، بیا هم د خپل پلرنی وطن په مینه کی سوزی، « زما افغانستان » یی بولی، په درد یی دردمن دی او غواړی په نوره نړی کی یی هم اولسونه په کړاوونو باندی خبرکړی. که ده دهر چا په هڅونه یا مادی ملاتړ دی کار ته پښی لوڅی کړی وی، زما په اند د ستایلو وړ دی او دده نیک نیت باید دده د فلم د تخنیکی نیمګړتیاوی قربانی نشی چې بهاند صاحب هم په خپله لیکنه کی دغه مهم ټکی پرخپل ځای او په غور سره په پام کی نیولی دی.

بده به نه وی د فرصت نه په ګټه اخیستلو سره په افغانستان کی د ترخو واقعیتو په لړ کی د یوه بل فلم څخه هم په لنډو کی یادوونه وکړم: دری شپی مخکی د ډنمارک هم هغه تلویزیونی چاینل په تخار ولایت کی ډک شوی شوی یو زړه بوګنونکی فلم وښود. هلته د جهادی قوماندانانو د بچه بازیو مستندی صحنی ثبت شوی وی چې واړه (دوولس، دیارلس کلن) هلکان یی د نجونو په جامو کی رقصول او شیطانی شهوتونه یی پری ارضا کول. د یوه نفر جهادی قوماندان څخه یی پوښتنه وکړه چې ته څنګه دا کار کوی؟ هغه په ځواب کی داسی وویل: من یک قوماندان جهادی بودم (په پوره یقین سره به د اسلامی جمعیت او نظار شورا قوماندان وو)، درهمان وقت بین قوماندان ما در این مورد یک قسم هم چشمی بود لذا من هم نمیخواستم از دیگران کم باشم و باید یک چند تا را نګا میکردم. د ده څخه یی بیا وپوښتل: آیا خانم تان از این موضوع خبر دارد؟ ځواب: بلی او از این ګپ خبر دارد. سوال: آیا با این بچه ها سکس هم میکی؟ ځواب: بلی وقتیکه زنم اجازه بته میکنم. سوال: آیا از خانم تان درین باره اجازه میګری؟ ځواب: ګرچه از زن


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اجازه گرفتن چندان معمول نیست، اما من یک ادم اجتماعی هستم و از او اجازه میگیرم. سوال: آیا او اجازه میته؟ ځواب: بلی میته. د دی فلم د ترخه واقعیت کیسه اوږده ده خو زه دا ګړی ددغی یوی بیلګی په یادولو سره بسنه کوم.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ